Global Storybooks

globalstorybooks.net

زرلنبته / Simbegwire

Rukia Nantale
Benjamin Mitchley
Zahidullah Abid (ps)

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.

https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

زرلنبته

Simbegwire

Rukia Nantale
Benjamin Mitchley
Zahidullah Abid

5

پښتو ps / English en



کله چې د زرلښتې مور مړه شوه، نو هغه ډېره خفه وه. د زرلښتې پلار د خپلې لور د پاملرنې لپاره ډېره هڅه کوله. ورو ورو دوی زده کړل چې ځنګه پرته د زرلښتې د مور څخه په خوشحالۍ ژوند وکړي. دوی به هر سهار له یو بل سره کښېناستل او د راتلونکو ورځو په اړه به یې خبرې کولې. هر ماښام به یې په ګډه ډوډۍ خوړله. د لوښو د پرېمنځلو وروسته به د زرلښتې پلار د هغې سره د کورنۍ دندې په ترسره کولو کې مرسته کوله.

. . .

When Simbegwire’s mother died, she was very sad. Simbegwire’s father did his best to take care of his daughter. Slowly, they learned to feel happy again, without Simbegwire’s mother. Every morning they sat and talked about the day ahead. Every evening they made dinner together. After they washed the dishes, Simbegwire’s father helped her with homework.

یوه ورځ د زرلښتې پلار د تل په شان نه، بلکې لږ ناوخته کور ته راغئ او غږ یې وکړ "زما لوري! چېرته یې؟" زرلښتې د خپل پلار په لور منډه وکړه، خو کله یې چې ولیده چې د هغې پلار د یوې ښځې لاس نیولی، نو ودرېدله. پلارېې په خندا ورته وویل: "زما لورې! زه غواړم چې تا له یو ځانګړي کس سره بلده کړم. دا انیتا ده."

...

One day, Simbegwire's father came home later than usual. "Where are you my child?" he called. Simbegwire ran to her father. She stopped still when she saw that he was holding a woman's hand. "I want you to meet someone special, my child. This is Anita," he said smiling.

انیتا وویل: “سلام زرلښتې، پلار دې ستا په اړه ماته ډیر څه ویلي و.” خو زرلښتې خوشحاله نه شوه، او نه یې هم د نجلۍ لاس ونیوه. د زرلښتې پلار خوشحال و. هغه د ګډ ژوند تېرولو په اړه، او دا چې د ګډ ژوند له امله به د دوی ژوند څومره ښه وي، خبرې وکړې. هغه وویل: “زما لورې! هیله ده چې ته انیتا د خپلې مور په توګه ومنې.”

. . .

“Hello Simbegwire, your father told me a lot about you,” said Anita. But she did not smile or take the girl’s hand. Simbegwire’s father was happy and excited. He talked about the three of them living together, and how good their life would be. “My child, I hope you will accept Anita as your mother,” he said.



بله اونۍ انیتا، زرلښتې، د هغې ترور او د ترور لورګانو ته د ډوډۍ خوړلو لپاره یوې لویې مېلمستیا ته بلنه ورکړه. انیتا د زرلښتې د خوښې خواړه چمتو کړي و، ټولویه مړې خېټې خواړه وخوړل. ماشومانو لوبې او لویانو مرکې کولې. زرلښته ډېره خوشحاله وه. هغې پریکړه وکړه چې ډیر ژر به بیرته خپل کور ته راستنه شي او د خپل پلار او میرې سره به ګډ ژوند وکړي.

. . .

The next week, Anita invited Simbegwire, with her cousins and aunt, to the house for a meal. What a feast! Anita prepared all of Simbegwire’s favourite foods, and everyone ate until they were full. Then the children played while the adults talked. Simbegwire felt happy and brave. She decided that soon, very soon, she would return home to live with her father and her stepmother.

د هغې پلار به هره ورځ د زرلښتې لیدو ته راته. ډېر وخت وروسته پلار یې له انیتا سره په ګډه راغئ. انیتا د زرلښتې لاس په خپل لاس کې ونیوه او ورته یې وویل "کوچنۍ! زه ډېره بخښنه غواړم، زه تېروتې وم." انیتا ژړل او ویې ویل "کولای شې ماته د جبرانولو لپاره یو وار او چانس راکړې؟"
زرلښتې د خپل پلار اندېښمن مخ ته وکتل او ورو ورو د انیتا خواته ورغله او د انیتا څخه یې خپل لاسونه راچاپېر کړل.

. . .

Her father visited her every day. Eventually, he came with Anita. She reached out for Simbegwire's hand. "I'm so sorry little one, I was wrong," she cried. "Will you let me try again?" Simbegwire looked at her father and his worried face. Then she stepped forward slowly and put her arms around Anita.

د زرلښتې ژوند بدل شو. هغې نور د سهار لخوا د خپل پلار سره د کیناستو لپاره وخت و نه موندلو. انیتا چې د کور ټول کارونه یې په غاړه و، ان دا چې د ډېرې ستړیا له امله به یې ماښام د ښوونځي کورنۍ دنده هم نه شوه ترسره کولی. زرلښته به د ډوډۍ خوړلو وروسته ویده کېدله. د هغې یوازینۍ هوساینه همغه رنګینه کمپله وه چې مور یې ورته ورکړې وه. د زرلښتې پلار په دې نه پوهېده چې لور یې خوشحاله نه ده.

. . .

Simbegwire's life changed. She no longer had time to sit with her father in the mornings. Anita gave her so many household chores that she was too tired to do her school work in the evenings. She went straight to bed after dinner. Her only comfort was the colourful blanket her mother gave her. Simbegwire's father did not seem to notice that his daughter was unhappy.

څو میاشتې وروسته د زرلښتې پلار دوی ته وویل:”زه باید د خپلې دندې لپاره څه مودې سفر وکړم.” “مګر زه پوهیږم چې تاسوبه له یو بل سره مرسته وکړئ.” زرلښته ډېره خفه شوه، خو پلار یې پوه نه شو. انیتاهم خوشحاله نه وه او څه یې ونه ویل.

. . .

After a few months, Simbegwire’s father told them that he would be away from home for a while. “I have to travel for my job,” he said. “But I know you will look after each other.” Simbegwire’s face fell, but her father did not notice. Anita did not say anything. She was not happy either.

زرلښتې د خپلې ترور د لورګانو سره لوبې کولې، چې پلار یې د لرې څخه تر سترګو شو. زرلښتې ویره درلوده چې پلار به یې ورته په غوسه وي، نو کور خواته یې منډه کړه چې ځان پټ کړي. خو پلار یې ورته ورغئ او یې وویل: “زرلښتې ، تا یوه ډېره ښه مور موندلې ده، هغه له تا سره مینه لري او تا درک کوي، زه په تا ویاړم او له تاسره مینه لرم.” دوی دواړو په دې سلا وکړه چې زرلښته به د خپلې ترور سره تر هغه وخته اوسېږي تر څو چې د زرلښتې خوښه وي.

. . .

Simbegwire was playing with her cousins when she saw her father from far away. She was scared he might be angry, so she ran inside the house to hide. But her father went to her and said, “Simbegwire, you have found a perfect mother for yourself. One who loves you and understands you. I am proud of you and I love you.” They agreed that Simbegwire would stay with her aunt as long as she wanted to.



کله چې د زرلښتې پلار کور ته راستون شو، نو ویې لیده چې په کوټه کې څوک نشته. هغه په دردمن زړه وپوښتل "څه خبره ده، انیتا؟" هغې ورته ځواب ورکړ، چې زرلښته له کوره تښتېدلې ده او زیاته یې کړه:"ما غوښتل چې هغه زما درناوی وکړي. مګر شاید زه ډېره جدي وم." د زرلښتې پلار له کوره ووته او د ویالې په لور روان شو. هغه د خپلې خور کلي ته ولاړ، ترڅو معلومه کړي چې که د هغه خور زرلښته لیدلې وي.

. . .

When Simbegwire's father returned home, he found her room empty. "What happened, Anita?" he asked with a heavy heart. The woman explained that Simbegwire had run away. "I wanted her to respect me," she said. "But perhaps I was too strict." Simbegwire's father left the house and went in the direction of the stream. He continued to his sister's village to find out if she had seen Simbegwire.

د زرلښتې ژوند په خرابېدو شو. کله به یې چې د کور کارونه ونه کړل، او یا به یې کوم شکایت کوه، انیتا به هغه وهله. د شپې به انیتا ډېر خواړه خوړل، او زرلښتې ته به یې لږ خواړه پرېښودل. زرلښتې به هره شپه د خپلې مور کمپله په غېږ کې نیوله او په ژړا ژړا به ویده کېده.

. . .

Things got worse for Simbegwire. If she didn't finish her chores, or she complained, Anita hit her. And at dinner, the woman ate most of the food, leaving Simbegwire with only a few scraps. Each night Simbegwire cried herself to sleep, hugging her mother's blanket.

یو سهار زرلښته تر ناوخته پورې خپلې بستره کې ویده وه، چې انیتا چیغې کړې:"ای لټې نجلۍ" او له کټ څخه یې لاندې راوغورځوله. هغه کمیله چې زرلښتې ته یې ډېر ارزښت درلود، په مېخ کې ونښته او دوه ټوټې شوه.

• • •

One morning, Simbegwire was late getting out of bed. “You lazy girl!” Anita shouted. She pulled Simbegwire out of bed. The precious blanket caught on a nail, and tore in two.

د زرلښتې ترور هغه خپل کور ته یوړله. هغې زرلښتې ته ګرم خواړه ورکړه، او د خپلې مور د کمیلې سره یې په کټ کې څملوله. د شپې زرلښته په ژړا ژړا ویده شوه خو دا اوښکې یې د خوشحالۍ اوښکې وې. هغه پوهېده چې د هغې ترور به د هغې سمه پالنه وکړي.

• • •

Simbegwire’s aunt took the child to her own house. She gave Simbegwire warm food, and tucked her in bed with her mother’s blanket. That night, Simbegwire cried as she went to sleep. But they were tears of relief. She knew her aunt would look after her.

يادې ښځې پورته د ونې ښاخونو ته کتل چې يوه نجلۍ او د رنګينې کمپلې ټوټې يې وليدلې، نو چيغې يې کړې، "زرلښتې!، زما د ورور لورکۍ!" نورې ښځې هم د کاليو پرېمينځل ودرول، او د زرلښتې سره يې مرسته وکړه چې له ونې څخه رانښکته شي. د زرلښتې ترور هغې په غېږ کې ونيوله او د آرامولو لپاره يې هڅه وکړه.

. . .

This woman looked up into the tree. When she saw the girl and the pieces of colourful blanket, she cried, "Simbegwire, my brother's child!" The other women stopped washing and helped Simbegwire to climb down from the tree. Her aunt hugged the little girl and tried to comfort her.

زرلښته ډېره خپه وه. هغې پرېکړه وکړه چې له کوره وتښتي. هغې د خپلې مور د کمپلې ټوټې او يو څه خواړه له ځان سره واخيستل، او له کوره ووتله. هغې هغه لارتعقيب کړه، په کومه لاره چې يې پلار تللی ؤ.

. . .

Simbegwire was very upset. She decided to run away from home. She took the pieces of her mother's blanket, packed some food, and left the house. She followed the road her father had taken.

کله چې ماښام شو، نو هغه یوې ویالې ته نږدې یوې لوړې
ونې ته وختله او د ونې په څانګو کې یې د ځان لپاره د خوب
ځای جوړ کړ. او چې ویده کېده له ځان سره سندرې ویلې:
“مورې، مورې، مورې، تا زه پرېښودم، تا زه پرېښودم، او
هیڅکله بیرته راونه ګرځېدې. پلار مې زما سره نوره مینه نه
لري. مورې، ته کله بیرته راځې؟ تا زه پرېښودم.”

• • •

When it came to evening, she climbed a tall tree near a stream and made a bed for herself in the branches. As she went to sleep, she sang: “Maama, maama, maama, you left me. You left me and never came back. Father doesn’t love me anymore. Mother, when are you coming back? You left me.”

بله ورځ سِمبېګویر د ویالې غاړې ته د جامو مینځلو لپاره راغلې
وې چې زړلسَوونکي سندرې ویلې، د دوی پام شو چې د لوړې
ونې څخه د غمجنې سندرې اواز راځي. دوی فکر وکړ چې دا
یوازې باد دی چې د ونې د پاڼو رپولو له امله اوازونه کوي، نو
خپل کار ته یې دوام ورکړ. خو یوې ښځې سندرې ته په ډېر
غور سره غوږ نیولی ؤ.

• • •

The next morning, Simbegwire sang the song again. When the women came to wash their clothes at the stream, they heard the sad song coming from the tall tree. They thought it was only the wind rustling the leaves, and carried on with their work. But one of the women listened very carefully to the song.